مسؤولیت متن، املاء و انشاء این نوشته بدوش خود نویسنده میباشد

انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۱۲/۲۸

# د عطا نور له دریځ نه ملاتړ به د چا په ګټه وی د ولس او که د ولس د دښمنانو؟

په ۲۰۱۴ کال کی د جمهوری ریاست د پاره انتخابات تر سره شول. په لومړی دور کی له لس دولسو کاندیدانو نه یوه هم ونه شو کولی چی د (۱+۵۰) رائی وګټي. دوه مخکښ کاندیدان ډاکتر عبدالله عبدالله او ډاکتر اشرف غنی د دویم پړاو سیالیو ته لاره پیدا کړه.

په دویم پړاو کی دوه ټیمونه د ټاکنیزو سیالیو د پاره میدان ته را و وتل. یو ټیم چی ډاکتر عبدالله عبدالله یی نوماند و د اصلاحات او همګرایی په نوم او بل ټیم چی ډاکتر اشرف غنی یی نوماند و د تحول او تداوم په نوم یادشول.

د ډاکتر عبدالله په ټیم کی تقریباً ټول جهادی تنظیمونه د پخوانی پاچا د ډلی په شمول سره را یوځای شول او د ډاکتر غنی په ټیم کی د آزادو کاندیدانو ډله سره تنظیم شوه.

انتخابات تر سره شول او د احصایو له مخی د اوه ملیونو نه زیاتو افغانانو د دولت د وسله وال مخالفینو د تهدیدونو او په ډیرو ځایونو کی د رایه ورکونکو د ګوتو په پریکیدو سره سره هم د خپل راتلونکی سرنوشت د ټاکنی د پاره د رایو مرکزونو ته را غلل او خپله رایه یی و کاروله. ټاکني لا روانی وی چی دواړو ټیمونو یو په بل باندی د ټګي تورونه ولګول. د تورونو لګولو زور واخست او تر دی حده ورسیدل چی د افغانستان د یو والی خطره پکی را منځ ته شوه. اخطارونو زیات شول او نژدی و چی د افغان قومونو تر منځ فزیکی برخورد را منځ ته شی. په همدی وخت کی د متحده ایالاتود خارجه چارو وزیر جان کیری کابل ورغی او د دواړو ټیمونو ترمنځ یی د روغی جوړی یو پرتو کول په دواړو مشرانو (غنی او عبدالله) باندی لاس لیک کړی.

په دی قرار داد باندی هماغه وخت د هیواد ډیرو پوهانو،سیاسیونو او د نظر خاوندانو له دی کبله چی د اساسی قانونه سره یی اړخ نه لګاوه نیوکی وکړی او دا دولت یی یو دوه سری دولت و ګاڼه. په دی قرار داد کی غنی د جمهور رئیس په توګه او عبدالله د پاره نوی پوست د اجرایه رئیس ( صدراعظم) په توګه جوړ او مقر شول. دواړو سوګندونه یاد کړل په کاریی پیل وکړ. لکه څنګه چی مونږ ټول شاهدان یو د وی تر منځ اختلافات تر ننه هم د دی سبب ګرځیدلی چی د یو والی په نوم د دی دولت دولتی چاری د زایاتو نیمګړ تیاو او په ډیرو برخو کی د نا کامیو سره مخامخ و او دی. سره د دی چی د دوی د ملی یووالی دولت چی د قانون له مخی لا تر اوسه هم د سوال لاندی دی، خو په ډیرو برخو کی یی ښه لاس ته راوړنی هم لرلی دی، په کورنیو چارو کی د ګلبدین حکمتیار د اسلام حزب سره روغه

جوړه ، دملی اقتصاد په برخه کی ګټور کار، د فساد او مخدره موادو د کنترول سره کلکه مبارزه ټول هغه څه دی چی په ښو لاس ته راوړنو کی شمیرلی کیدای شی.

په نړیوال سیاست کی دی دولت ډیر مثبت کارونه سرته رسولی چی د لته د ټولو د یادولو ضروت نشته خو تر ټولو لوی کار یی زما په خیال دادی چی د پاکستان نظامیګران یی نړیوالو ته ور وپیژندل چی په منطقه کی همدا هیواد په ټول توان سره د تروریزم ملاتړ کوی او بلاخره د متحده ایالاتو نوی اداره یی دی ته تشویق کړله چی د پاکستان سره په خپلو اړیکو له سره غور وکړی او دا هیواد د تروریزم له حمایی او ملاتړ څخه د فشارونو په واردولو سره منع کړی. همدارنګه د دی دولت دریځ د بل ګاونډی هیواد ایران سره چی تل یی زیات فرهنګی او اقتصادی زیانونه مونږ ته را اړولی دی، د سم سیاست غوره کونه بللی شو.

په هر صورت د ملی یووالی د دولت دوه مشران د ډیرو خپل منځی اختلافاتو سره سره بیا هم په دی ټکی سره متفق شوی ښکاری چی ملی ګټی او د ملی ګټو ساتنه د نورو ټولو حزبی (تنظیمی)، قومی، سمتی او نورو نورو نه لوړی او د بل هرڅه نه لومړیتوب لری نو باید په ساتنه کی یی شریکی هلی ځلی و کاندی.

د دی تر څنګ داسی ښکاری چی د جمهوری ریاست د پاره د راتلونکو ټاکنو تر وخته پوری د نړیوالی ټولنی له موجودیت څخه سالمه ګټه پورته شی او په لومړی سر کی هغه موانع چی د سالمو او پاکو ټاکنو په لاره کی حتی د وسله والو مخالیفینو نه هم زیاته خنډونه جوړوی هغه له منځه یوړل شی. داسی ښکاری چی دواړه مشران دی نتیجی ته رسیدلی دی چی له تیرو شپاړسو کلو را په دی خواد ولس په اوږو سواره وسله وال جنګ سالاران که د حکومت په چوکاټ کی وجود لری اوکه د ملی شورا په چوکاټ کی د ملت د نمایده په توګه غړیتوب لری باید بی واکه او د خلکو له اوږو نه را ښکته کړل شی، تر خو خلک په پوره آزادی او خپله خوښه خپل راتلونکی جمهور رئیس او دولتی زعامت و ټاکی.

## یوه بله خبره چی زما په نظر ډیره د دقت وړده هغه داده چی:

عطا محمد نور ، صلاح الدین ربانی او د جمعیت د ډلی اکثره وکیلان په پارلمان کی وایی چی د جمهور رئیس د بلخ له ولایت نه د عطا نور د لری کیدو صلاحیت نه لری، نو چی ده صلاحیت نه درلود تا عطا نور ولی دی غنی ته د جمهور رئیس په عنوان استعغا نامه وړاندی کوله؟ که دی صلاحیت نه لری نو تا صلاح الدین ربانی د اوږدی مودی د پاره چی ولسی جرګی صلب صلاحیت ګرزولی وی د همدی جمهور رئیس په فرمان ولی د خارجه چارو د سرپرست په توګه وظیفه تر سره کوله؟ که ښاغلی غنی د جمهور رئیس په صفت د یوه والی د لری کیدو صلاحیت نه لری نو همدا عطا نور چی د بلخ د ولایت سر پرست والی و، ولی دا منلی وه چی د همدی جمهوررئیس په فرمان د والی په توګه مقرر شو؟ او که دا جمهور رئیس د یوه والی د مقرری او موقوفی صلاحیت نلری نو څنګه د یوه فرمان په ذریعه د هیواد د یوی ستری مقننه قوی د دوری د تمدید صلاحیت ورسره موجود کیدای شی او په سلګونو وکیلان چی نژدی دوه کاله وړاندی یی د خدمت قانونی دوره پای ته رسیدلی او لا تر اوسه وکیلان دی، مصوبی جوړوی، وزیرانو ته د اعتماد رایه ورکوی، دولتی بودجه منظوروی او هر یو یی د وکالت ټول امتیازات تر لاسه کوی؟ او داسی نوری ملی او بین المللی چاری چی یو جمهور رئیس یی باید تر سره کړی چی قانونی اختیارات نه لری ولی یی تر سره کوی؟

زه ښاغلی عطا نور، ښاغلی ربانی، ښاغلی تورن اسماعیل، د قوماندان مسعود ورونه، په ملی شورا کی ځنی وکیلان لکه قیوم، لکه ایوبی، لکه ایزد یار او نور ځکه نه ملا متوم چی «سبحان الله هر چیز ازمرگ خود میتر سد حتی چارمغز هم»، دوی د بل هر چا نه په دی ډیر ښه پوهیږی چی که په دی ملک کی قانونیت حاکم او ټولنیز عدالت قایم شی دوی به چیرته وی؟؟

خو ټول هغه نور کسان چی د دوی په څیر د ملت قرضدار نه وی که د جمعیت د ډلی غړی وی اوکه د نورو سیاسی ډلو سره اړیکی لری او که بی طرفه وی، باید په دی ټکی غور وکړی چی د داسی یوی موضعگیری نه ملاتړ لکه ښاغلی نور چی نیولی ده، په دی مشخصو او ترینګلو شرایطو کی د چا د پاره ګټه لری او چاته یی تر ټولو لوی تاوان رسیږی؟

داسی یی فرض کړی چی دی تا تریخوالی زور واخست او خدای مکړه وسله وال تصادمات را منځ ته شول، څوک او د چا زامن به پکی له منځه ځی او څوک به د افغانانو له داسی حالاتو نه ګټه پورته کوی؟

داسی یی فرض کړی چی خبره دی ته را ورسیده چی دا ملک د همدی یو څو تنو د قدرت نیولو او زور ازمایلو قربانی شو او د ټوټه کیدو خواته و لاړ ایا پوهیږی چی څومره د ټولو انسانی ابتدایی حقونو نه محروم انسانان به یی قربانی شی او بیا به د دی ناوړه حلاتو نه (الله ج دی نه راولی) څوک ګټه اوچته وی تاسو د دی زور واکانو پلویان او که ستاسو په کمین کی ناست دښمنان؟ نوراشی پخوا له دی چی نا وخته شی د داسی یاغیانو لکه طالب، داعش اویا د عطا نور په څیر د خپلو ګټو د لیونیانو له حمایی او ملاتړ نه لاس واخلی او په دولت زوره واچوی چی ولسونه سره راټول او په ریښتونی یو واحد ملت تری جوړ کاندی. راځی چی د خپلو خلکو تر منځ د فاصلو د ایجاد په لار کی نه بلکی د فاصلو د کمیدو او لری کیدو په لار کی زیا و باسو، تر څو د خپل وطن او خپل عزت د ساتنی پوره وړتیا تر دلاسه کړو، لکه د خویندو او ورونو په څیر یو د بل د تخریب د پاره نه، بلک د ترمیم د پاره لاس په کارشو.

و من الله التوفیق.

پای